---

**/۱۷ محرم الحرام /۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۱۲ / سرطان /۱۴۰۵هـ، ش**

# د دعاء د قبليدو آداب او شرائط

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيِّئات أعمالنا، مَن يهده الله فلا مُضلَّ له، ومَن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، أرسله بالهدى ودين الحقِّ ليُظهره على الدِّين كلِّه، فبلَّغ الرسالةَ وأدَّى الأمانةَ، ونصحَ الأمَّةَ، اللَّهم صل وسلم وبارك عليه، وعلى آله وأصحابه، ومَن سلك سبيلَه واهتدى بهديه إلى يوم الدِّين. أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:{وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ}. الاعراف:(۱۸۰)

**درنو حاضرينو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

په تيره جمعه کې مو د دعاء پر اهميت پوره بحث وکړو او دا مو وويل چې دعاء د عبادت مغز دی لکه چې په صحيح حديث شريف کې راځي:«الدُّعَاءُ مُخُّ العِبَادَةِ»: سنن الترمذي ت شاكر (٥/ ٤٥٦) دعاء د عبادت مغز دی.

او دا مو هم وويل : چې الله جل جلاله مهربانه ذات دی او کله چې مسلمان هغه ته دواړه لاسونه پورته کړي ، نو د هغه لاسونه تش نه پريږدي، يا يې دعاء قبلوي، يا ورڅخه مصيبت دفع کوي او يا يې دعاء آخرت ته ساتي.

اوس به ځينې کسان وايې چې ما خو د الله تعالی څخه فلانی حاجت وغوښتلو او په تکرار مې وغوښتلو ، خو زما دعاء قبوله نشوه!

## ددعاء د قبليدو شرائط:

لکه مخکې مو چې وويل دعاء عبادت دی او لکه څرنگه چې هر عبادت خپل آداب او شرائط لري، دارنگه د دعاء قبليدل هم ځانگړي آداب او شرائط لري. چې ددعاء ځينې شرائط په لاندې توگه دي:

**۱-په الله جل جلاله نیک گمان درلودل او  د دعاء په قبلیدو عقیده درلودل.**

د دعاء د قبلیدو لپاره دا ضروري ده، چې مسلمان باید په الله تعالی باندې نیک گمان ولري ، هغه ذات چې د خیر او شر مالک دی او د خلکو حاجتونه پوره کوي او په دې به هم عقیده ولري، چې الله جل جلاله د خپلو بندگانو دعاگانې قبلوي او د بندگانو حاجتونه پوره کوي.که څوک د الله تعالی د رحمت او مهربانۍ څخه نا امیده وي او په دې عقیده وي چې دعاگانې کومه گټه نلري، نو دداسـې شخص دعاء نه قبلیږي. په یو قدسي حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایي چې الله جل جلاله فرمایلي دي:« أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِى بِى وَأَنَا مَعَهُ إِذَا دَعَانِى ». صحیح مسلم (۸/ ٦٦)

ژباړه: زه د خپل بنده د گمان سره یم چې پر ما باندې یې کوي او زه د خپل بنده سره یم(علماً) کله چې ما رابولي.

یعنې زه د خپل بنده گمان یم که چیرې زما څخه څه وغواړي، نو زه یې دعاء قبلوم او -خدای مکړه –که چیرې زما څخه د دعاء د قبلیدو امید نلري ، نو د هغه دعاء نه قبلوم. او زه د بنده سره یم چې کله ما رابولي یعنې د هغه دعاگانې قبلوم.

همدا راز په حدیث شریف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ادْعُوا اللَّهَ وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالإِجَابَةِ» سنن الترمذي ت شاكر (٥ /٥١٧)، وحسَّن سنده الهيثمي. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد. محقق (١١ /١٠)

ژباړه: د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دعاء وغواړئ له الله جل جلاله څخه په داسې حال کې چې تاسې یقین لرونکې یاست د قبلیدو د دعاء.

**۲- دعاء به د شریعت خلاف نه وي .**

څوک چې د الله تعالی څخه څه دعاء غواړي ، نو هغه به داسې شی نه وي چې د شریعت خلاف وي لکه داسې دعاء چې په هغې کې قطع د صله رحمۍ وي یا مال ددې لپاره وغواړي چې په گناهونو او بې ځایه کارونو کې یې مصرف کړي او یا د کومې گناه غوښتنه په کې وي.په حدیث شریف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «لَا يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ، مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ» صحيح مسلم (٤ /٢٠٩٦)

ژباړه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: همیش به د بنده (مسلمان) دعاء تر هغې قبلیږي ترڅو پورې چې هغه دعاء د گناه نه وي کړې او یا یې دعاء د صله رحمۍ د قطع کولو نه وي کړې.

په یو روایت کې راځي. عَنِ الْأَعْمَشِ، قَالَ: كَانَ ابْنُ مَسْعُودٍ جَالِسًا بَعْدَ الصُّبْحِ فِي حَلْقَةٍ، فَقَالَ: «أَنْشُدُ اللهَ قَاطِعَ رَحِمٍ لَمَا قَامَ عَنَّا، فَإِنَّا نُرِيدُ أَنْ نَدْعُوَ رَبَّنَا، وَأَبْوَابُ السَّمَاءِ مُرْتَجَةٌ دُونَ قَاطِعِ رَحِمٍ» المعجم الكبير للطبراني (٩ /١٥٨)، قال الهيثمي: ورجاله رجال الصحيح. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد. محقق (٨ /٧٢)

ژباړه: امام اعمش رحمه الله وایې چې حضـرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ناست ؤ د سهار څخه وروسته په یو مجلس کې او داسې یې وفرمایل: زه قسم خورم په الله د قطع کوونکي د صله رحمۍ لپاره کله چې زمونږ څخه پاڅیده . بیشکه مونږه غواړو چې د خپل رب څخه دعاء وغواړو  حال داچې د آسمان دروازې بندې دي د صله رحمۍ د قطع کوونکي په مخ باندې.

**۳-په دعاء کې به له حده تجاوز نکوي.**

په دعاء کې به له حده تجاوز نکوي . الله جل جل جلاله فرمايلي دي:(ادْعُواْ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ).الاعراف:(۵۵)

ترجمه: وبولئ تاسې رب خپل (هروقت ) په زارۍ عذر او په پټه سره (ځکه چې په پټه بلل د اخلاص دليل دی، ځکه الله پاک د حده تجاوز کوونکي نه خوښوي.

**تشريح او توضيح:** علماء کرام وايې چې په دعاء کې له حده تجاوز لکه د انبياء کرامو د منزلو او مرتبو غوښتل، يا په داسې چا باندې لعنت ويل او دهغه لپاره د هلاکت دعاء غوښتل چې هغه يې مستحق نه وي ، يا په چيغو چيغو سره دعاء کول.النکت والعيون (۲ / ۲۳۱)

په يوروايت کې راځي. عَنْ أَبِى نَعَامَةَ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مُغَفَّلٍ سَمِعَ ابْنَهُ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّى أَسْأَلُكَ الْقَصْرَ الأَبْيَضَ عَنْ يَمِينِ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلْتُهَا. فَقَالَ أَىْ بُنَىَّ سَلِ اللَّهَ الْجَنَّةَ وَتَعَوَّذْ بِهِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّى سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِنَّهُ سَيَكُونُ فِى هَذِهِ الأُمَّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِى الطُّهُورِ وَالدُّعَاءِ » سنن أبى داود-ن (۱ /۳۶)

ژباړه: د ابو نعامه رحمه الله څخه روايت دی ، هغه وايې عبدالله بن مغفل رضي الله عنه د خپل زوی څخه واوريدل چې داسې ويل: ای الله ! زه له تا څخه هغه سپين قصر د جنت په ښي اړخ کې غواړم ، چې زه ورته داخل شم . عبدالله بن مغفل رضي الله ورته وويل: ای بچيه! د الله څخه جنت وغواړه او په الله تعالی د جهنم څخه پنا وغواړه، بيشکه ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: بيشکه په دې امت کې به داسې خلک وي چې له حده به تجاوز کوي په اوداسه او دعاء کې.

په يو بل روايت کې راځي. عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا لَعَنَ شَيْئًا صَعِدَتِ اللَّعْنَةُ إِلَى السَّمَاءِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ دُونَهَا ثُمَّ تَهْبِطُ إِلَى الأَرْضِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُهَا دُونَهَا ثُمَّ تَأْخُذُ يَمِينًا وَشِمَالاً فَإِذَا لَمْ تَجِدْ مَسَاغًا رَجَعَتْ إِلَى الَّذِى لُعِنَ فَإِنْ كَانَ لِذَلِكَ أَهْلاً وَإِلاَّ رَجَعَتْ إِلَى قَائِلِهَا ». سنن أبى داود-ن (٤ /٤٢٩)

ژباړه: د حضرت ام درداء رضی الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې چې ما دابو درداء رضي الله عنه څخه اوريدلي دي چې هغه ويل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: بيشکه بنده چې په يو شي باندې لعنت ووايې ، وخيژي لعنت آسمان ته ،نو د آسمان دروازې يې پر مخ بندې شي، بيا را ښکته شي ځمکې ته ، نو د ځمکې دروازې يې هم پر مخ بندې شي، بيا ښي لاس ته وګرځي او چپ لاس ته وګرځي ،نو کله چې لاره پيدا نکړي ، نو را وګرځي هغه چاته چې لعنت ورباندې ويل شوی دی که چيرې هغه مستحق د لعنت ؤ(خو ښه ده ) او که چيرې هغه يې مستحق نه ؤ، نو هغه چا باندې راګرځي چې لعنت يې ويلې دی.

**۴-د حرامو د خوړلو ، څښلو او اغوستلو څخه ځان ساتل.**

ددعاء د قبليدو لپاره بل شرط دادی چې دعاء غوښتونکی به له ګناهونو څخه توبه وباسي او د حرامود خوړلو او حرامو څښلو او د حرامو اغوستلو څخه به ځان ساتي. ځکه چې د چاپه خيټه کې حرام وي او يايې څښاک د حرامو وي او يا يې په غاړه کې حرام وي ، دداسې شخص دعاء نه قبليږي. حرام خوړل لکه د سود خوړل، د رشوت خوړل، د غلا د مال خوړل، د يتيم مال خوړل، د پردي مال په ناحقه خوړل، په شريعت کې د حرام شوي حيوان خوړل.

د حرامو څښل لکه د شرابو څښل، د غصب شوو اوبو څښل، د دخانیاتو ، مخدره موادو، چرسو ، بنگو څښل او داسې نور.

د حرامو اغوستل لکه د غلا لباس او د غصب شوي لباس اغوستل، د وریښمو اغوستل ، هغه لباس چې د ښځو دلباس سره مشابهت ولري یا د ښځو هغه لباس چې د سړو د لباس سره مشابهت ولري اوداسې نور.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ، فَقَالَ: {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} [المؤمنون: ٥١] وَقَالَ: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: ١٧٢] ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟» صحیح مسلم (٢/ ٧٠٣)

ژباړه: د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای خلکو! بیشکه الله تعالی د هر عیب څخه پاک دی او نه قبلوي مگر پاکیزه او بیشکه الله تعالی مؤمنانو ته په هغه څه باندې امر کړی دی په کوم څه چې رسولانو ته امر کړی او داسې یې فرمایلي دي: {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} المؤمنون:(٥١) او فرمایلي یې دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ})البقرة:(١٧٢) بیا نبي علیه السلام د هغه شخص ذکر وکړ چې اوږد سفر وکړي، گردجن ویښتان یې گردجن وي او جسم یې هم گردجن وي (د مسافرۍ له وجې نه) اوږده کړي دواړه لاسونه آسمان ته (او داسې دعاء وکړي) چې ای زما ربه ! ای زما ربه ! (یعني زما دا حاجت پوره کړې ، زما دا حاجت پوره کړې) حال داچې د هغه خوراک حرام وي او څښاک یې حرام وي او لباس یې حرام وي او تغذیه شوی وي په حرامو ، نو څرنگه به قبوله شي (دعاء) دداسې شخص؟

په یو بل روایت کې راځي. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: تُلِيَتْ هَذِهِ الْآيَةُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا} [البقرة: ١٦٨] فَقَامَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا سَعْدُ أَطِبْ مَطْعَمَكَ تَكُنْ مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، إِنَّ الْعَبْدَ لَيَقْذِفُ اللُّقْمَةَ الْحَرَامَ فِي جَوْفِهِ مَا يُتَقَبَّلُ مِنْهُ عَمَلَ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، وَأَيُّمَا عَبْدٍ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنَ السُّحْتِ وَالرِّبَا فَالنَّارُ أَوْلَى)بِهِ» المعجم الأوسط (٦/ ٣١١). قال ابن حجر: وَذَكَرَهُ ابْنُ أَبِي حَاتِمٍ فِي "الْعِلَلِ" مِنْ حَدِيثِ حُذَيْفَةَ، وَصَحَّحَ عَنْ أَبِيهِ وَقْفَهُ. التلخيص الحبير (٤/

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخ کې دا آیت ولوستل شو:( {يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا}) البقرة:(١٦٨) نو سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه پاڅیدلو او وه یې ویل: ای د الله رسوله! د الله تعالی څخه وغواړه چې ما مستجاب الدعوه وگرځوي. نبي علیه السلام ورته وفرمایل: ای سعده! خپل خوراک پاکیزه کړه ، نو ته به مستجاب الدعوه شی. قسم په هغه ذات چې روح د محمد(صلی الله علیه وسلم) د هغه په واک کې دی بیشکه بنده خامخا اچوي حرامه مړۍ په خیټه کې نه قبلیږي دده څخه د څلویښتو ورځو عمل ( عبادت او نیک عمل) او د هر بنده غوښه چې په حرامو او سود سره را وه ټوکیږي، نو د جهنم اور ولره غوره دی.

**٥-د دعاء پر وخت قلبي حضور درلودل او په پوره توجه سره دعاء غوښتل.**

دا ضروري ده چې کله څوک د الله تعالی څخه دعاء غواړي، د دعاء غوښتلو پر وخت قلبي حضور ولري او په داسې حالت کې دعاء ونه غواړي چې زړه یې غافله وي. او د دعاء پر وخت عاجزي ، خشوع او خضوع اختیار کړي. الله تعالی فرمایلي دي: :(ادْعُواْ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً).الاعراف:(٥٥) ترجمه: وبولئ تاسې رب خپل (هروقت ) په زارۍ عذر او په پټه سره.

په حديث شريف کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي:«وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَجِيبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ» سنن الترمذي ت شاكر (٥ /٥١٧)، وحسَّن سنده الهيثمي فى المجمع (١١ /١٠)

ژباړه: پوهه شئ! چې بيشکه الله تعالى نه قبلوي دعاء د هغه زړه چې غافله وي او بې پروا وي.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به ويل: ( إني لا أحمل هم الإجابة ولكن أحمل هم الدُّعَاء) موارد الظمآن لدروس الزمان (٤/ ٥٨٨)

ژباړه: زه کوښښ نکوم ددعاء په اجابت کې بلکې زه زيات کوښښ کوم په دعاء کې.

**٦- د دعاء په قبليدو کې عجله نکول.**

ځينې کسان داسې دي چې يوځل دعاء وکړي او کله چې دعاء ژر قبوله نشي ، نو دعاء کول پريږدي.

د دعاء له شرطونو څخه يو شرط دادی چې د دعاء په قبليدو کې به عجله نکوئ.

په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ يَقُولُ دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي» صحيح البخاري ت (١٦/ ٩٣)

ژباړه: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قبليږي (دعاء) ستاسو د يو شخص ترڅو چې عجله ونکړي ( او عجله داده چې) ووايې دعاء مې وکړه مگر زما دعاء قبوله نشوه.

ددې حديث په يو بل لفظ کې راځي. « لاَ يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ ». قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الاِسْتِعْجَالُ قَالَ « يَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ أَرَ يَسْتَجِيبُ لِى فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ ». صحيح مسلم (٨/ ٨٧)

ژباړه: هميشه قبليږي د بنده دعاء ترڅو چې دعاء يې د گناه نه وي او يا د قطع صله رحمی دعاء نه وي کړي تر هغې پورې چې عجله يې نه وي کړي. چا ووېل : ای د الله رسوله عجله څرنگه وي؟ نبي عليه السلام وفرمايل: بنده وايې چې دعاء مې وغوښتله او بيا مې هم وغوښتله ، خو زه فکر نه کوم چې زما دعاء دې قبوله شي، نو له دعاء کولو څخه ستړی شي او دعاء کول پريږدي.

## د دعاء د قبليدو آداب:

دعاء هم لکه د نورو عباداتو ځانگړې آداب لر ي، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**١-د دعاء څخه مخکې حمد او ثناء ويل او پر محمد صلى الله عليه وسلم درود ويل.**

د دعاء د دآدابو څخه داده چې د دعاء غوښتلو څخه وړاندې بايد د الله تعالى حمد او ثناء ويل شي او پر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم درود وويل شي. عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: «كُلُّ دُعَاءٍ مَحْجُوبٌ عَنِ السَّمَاءِ حَتَّى يُصَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ »شعب الإيمان (٣/ ١٣٦)، المعجم الأوسط (١/ ٢٢٠). قال المنذري: رواته ثقات. الترغيب والترهيب (٢/ ٣٣٠)

ژباړه: د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې هره دعاء بنده ده آسمان د ختلو څخه تر هغې پورې چې درود وويل شي پر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم او په آل د محمد صلى الله عليه وسلم باندې.

**۲-په غوره وختونو کې دعاء کول.**

د دعاء د قبليدو له آدابو څخه يو آدب دادی چې بايد کوښښ وشي چې په غوره وختونو کې دعاء وکړل شي، لکه د رمضان مياشت، د عرفې ورځ، د جمعې ورځ ، د تهجدو وخت، د سحار وخت . په يو روايت کې راځي. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: اجْتَمَعَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَكَعْبٌ، فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: «إِنَّ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللَّهَ تَعَالَى فِيهَا خَيْرًا إِلَّا آتَاهُ إِيَّاهُ» مصنف عبد الرزاق الصنعاني (۳/ ۲۵۵)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ابوهريره او کعب رضي الله عنهما دواړه ناست وو، حضرت ابوهريره رضي الله عنه ووېل: بيشکه د جمعې په ورځ کې يو ساعت دی ، نه برابرېږي د هغه وخت سره مسلمان سړی چې سوال وکړي په هغه ساعت کې د الله څخه د خير مگر دا چې ورته به يې ورکړي .(د هغه غوښتل شوی شی.)

**۳- په غوره او بهتره حالاتو کې دعاء کول.**

د دعاء د قبليدو له آدابو څخه بل آدب دادی چې په هغو غوره حالاتو کې دعاء وکړل شي چې د دعاء د قبليدو احتمال په کې زيات وي . لکه لمانځه لپاره د انتظار حالت. په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الدُّعَاءُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ لَا يُرَدُّ» السنن الكبرى للنسائي (۹/ ۳۲)، صحيح ابن خزيمة (۱/ ۲۲۱)

ژباړه: حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: د آذان او اقامت ترمنځ دعاء نه رد کيږي.

**۴-د دعاء پر وخت مخ قبلې ته اړول.**

د دعاء له آدابو څخه يو آدب دادی چې څوک دعاء کوي ، بايد مخ د قبلې په لور واړوي. رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله دعاء کوله ، نو مخ به يې د قبلې په لور اړولو. کله چې صحابه کرام د حضرت عبدالله ذُوالْبِجَادَيْنِ ددفن څخه فارغ شول ، نو نبي عليه السلام مخ په قبله شو او د هغه په حق کې يې دعاء وکړه:(فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ دَفْنِهِ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ رَافِعًا يَدَيْهِ يَقُولُ: «اللهُمَّ إِنِّي أَمْسَيْتُ عَنْهُ رَاضِيًا فَارْضَ عَنْهُ» حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (۱/ ۱۲۲)

ژباړه: کله چې نبي عليه السلام فارغ شو د ذوالبجادين رضي الله ددفن کولو څخه ، مخ يې قبلې ته واړولو او دواړه لاسونه يې پورته کړل او داسې يې ووېل: ای الله ! زه له ذوالبجادين رضي الله عنه څخه راضي يم ته ورڅخه راضي شه.

په يو بل روايت کې راځي: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا جَازَ مَكَانًا مِنْ دَارِ يَعْلَى - نَسِيَهُ عُبَيْدُ اللَّهِ - اسْتَقْبَلَ الْبَيْتَ فَدَعَا» سنن أبى داود-ن (۲/ ۱۵۸)، مسند أحمد مخرجا (۲۷/ ۱۳۰)

ژباړه: بيشکه نبي عليه السلام عادت داوو چې کله به د دار يعلى له يو ځای څخه تيريدلو،( چې د هغه ځای نوم عبيدالله راوي هير کړی دی) نو مخ به يې قبلې ته واړولو او دعاء به يې وکړه.

**٥- د دعاء پر وخت د لاسونو پورته کول.**

د دعاء له آدابو څخه بل آدب دادی چې لاسونه آسمان لورې ته پورته کړي او دعاء به وغواړي. په حديث شريف کې راځي:عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ رَبَّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى حَيِىٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِى مِنْ عَبْدِهِ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ إِلَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا ». سنن أبى داود-ن (١/ ٥٥٣)

ژباړه: د سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بيشکه الله جل جلاله حياء ناک ذات دی او مهربانه ذات دی ، له خپل بنده څخه حياء کوي کله چې هغه ته دواړه لاسونه پورته کړي چې هغه واپس کړي خالي.

په دعاء کې د لاسونو پورته کول په بې شميره احاديثو کې راغلي دي . په يو حديث شريف کې راځي. عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ بِهِ، ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ أَبِي عَامِرٍ» وَرَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ، فَقَالَ: «اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ يَوْمَ القِيَامَةِ فَوْقَ كَثِيرٍ مِنْ خَلْقِكَ مِنَ النَّاسِ» صحيح البخاري (٨/ ٨١)

ژباړه: د ابو موسى اشعرى رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې چې رسول الله صلى الله راوغوښتلې اوبه او په هغو اوبو يې اودس وکړ ، بيايې دواړه لاسونه پورته کړل او وه يې ويل: ای الله ! ته ببنښه وکړې عبيد بن عامر ته او ماوليده سپينوالی د تخرگونو د نبي عليه السلام . او داسې يې وويل: ای الله ! وګرځوې ته (عبيد بن عامر) د قيامت په ورځ اوچت د ډيرو خپلو مخلوقاتو څخه له خلکو څخه.

علماء کرام وايي چې آسمان قبله ددعاء ده لکه څرنګه چې کعبه شريفه قبله ده د لمانځه لپاره. علامه طحطاوي ليکلي دي:( لأن السماء قبلة الدعاء كما أن الكعبة قبلة الصلاة) حاشية الطحطاوي على المراقي (ص: ٢٣٩)

محدثينو د احاديثو په کتابونو کې د( بَاب رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي الدُّعَاءِ) تر عنوان لاندې مستقل بابونه جوړ کړي دي ، لکه امام بخاري ، امام ترمذي، امام ابن ماجه، امام نسايي، امام ابن خزيمه او داسې نورو.

که څوک په دې اړه تفصيلي معلومات غواړي فعليه برسالة( فض الوعاء في أحاديث رفع اليدين بالدعاء، للامام السيوطي).

**٦-په عاجزی ، ټينګار او جديت سره دعاء غوښتل.**

د دعاء له آدابو څخه بل آدب دادی چې په دعاء کې الحاح وشي .يعنې په عاجزۍ سره او په ټينګار سره په مکرره ډول د الله تعالى څخه خپل حاجت وغوښتل شي.

بل داچې دعاء په جزم او جديت سره غوښتل په کار دي . په حديث شريف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« لاَ يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ، اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي إِنْ شِئْتَ، لِيَعْزِمِ المَسْأَلَةَ» صحيح البخاري (٨/ ٧٤)

ژباړه: د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: نه دې وايې يو کس ستاسو څخه داسې چې:ای الله ! ماته ببنښه وکړه که چيرې ستا خوښه وي، ای الله!پرمارحم وکړه که چيرې ستا خوښه وي.ددې نو جديت سره دې دعا وکړي.

**۷-دعاء په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې په درود ویلو سره ختمول.**

د دعاء له آدابو څخه دا هم ده چې کله دعاء ختمیږي ، په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې په درود ویلو سره دعاء ختمه شي نو ددعاء په آخر کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې درود شریف ولوستل شي.

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي: «إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ، حَتَّى تُصَلِّيَ عَلَى نَبِيِّكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» سنن الترمذي ت شاکر (۲/ ۳٥٦)

ژباړه: بیشکه دعاء د آسمان او ځمکې ترمنځ موقوفه وي ، هیڅ شی له دعاء څخه پورته نه خیژي ترڅو پورې ته درود ووایې په خپل نبي صلی الله علیه وسلم باندې.

**۸-د دعاء په اخیر کې دواړه لاسونه په مخ باندې راښکل.**

دا هم ددعاء له آدابو څخه ده چې کله دعاء ختمه شي، دواړه لاسونه په مخ باندې را ښکل شي.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ، قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ، لَمْ يَحُطَّهُمَا حَتَّى يَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ» سنن الترمذي ت شاکر (٥/ ٤٦٤)

ژباړه: د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا عادت ؤ چې کله به یې اوچت کړل دواړه لاسونه په دعاء کې ، نو نه به یې ښکته کول تر هغې پورې چې مسح به یې کړو په دواړو لاسونو مخ مبارک خپل.

ددې حدیث په یو بل لفظ کې راځي. عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا مَدَّ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ لَمْ يَرُدَّهُمَا حَتَّى يَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهِهِ» المستدرك للحاكم (۱/ ۷۱۹)، مسند عبد بن حمید ت مصطفی العدوي (۱/ ۹٤)

ژباړه: د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې بیشکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا عادت ؤ چې کله به یې اوږده کړل دواړه لاسونه ددعاء لپاره ، نه به واپس کول تر هغې پورې چې په دواړو لاسونو به یې خپل مخ مبارک مسح کړلو.

امام نووي رحمه الله هم په خپل (الأذکار) کې داسې باب لګولی دی:(بابُ رَفعِ الیدین في الدعاءِ ثم مَسْحِ الوَجْهِ بهما) الاذکار للنووي ط ابن حزم (ص: ٦۲۸)

**بارك الله لي ولكم في الفرقان العظيم ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم أقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين ، انه هو الغفور الرحيم.**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**